پوهند دکتورمحمد ظاهر حکمی ۳۱/۰۱/۲۰۰۹م

# د خلکو او قومونو یوالی اغیزه پر امنیت باندی

افغانه افغانیت در نه په تک وینم - خلکو وحدت پوری ندی هیڅ کلک وینم
ته خو نوی داسی له موره پیدا - د غلیم په خدمت ګوره د سپک و ینم

د امنیت په اړوند د هیواد سیاسی نظامی اجتماعی او اقتصادی حالات د ډیر هلو ځلوی له ډیر خارجی او داخلی قوتونو او خیرخوا منابعو ګورو چه لا کړکیچن کید و ته روانه ده ، او هر څوک که ګوندونه که تنظیمونه او یا رنګ رنګ متخاصم ګروپونه چه سلاح په لاس نیولی دی او د ټوپک په زور هریوی مقام او زمام غواړی، په چور او چپا ول کی خپله ګټه وینی سلا مشوری ته غا ړه نږدی ، د روښان فکرا نو ، پوهانو قومی مشرانو سپینږیرو خبرو اترو ته غوږنه نیسی او خلکی د یاس او حیرانتیا په ټغرکی لاس تر زنی کینولیدی. او ددی نا بلل شوی له ویرانی قتل قتال څخه ډکه جنګ ته دوام ورکوی او پای ورته نه لیدل کیږی، چه حتی جهانیان ورته اک پک پاتی او خسته شویدی .

په افغانستان کی د ملګرو ملتونو یو لوړ پوری چاروا کی وا یی ، په افغا نستان کی اوسنی جګړی د پای ټکی او امنیت راوستو ته یواځی پوځی او سیاسی فعالیتونه کافی ندی بلکی د خلکو او ځانګړی قومونو د میړانی او شهامت په نظر نیولو او د هغوی په یو موټی توب باندی چه د مینی ژور احساس پوری اړه لری ، او نن ورځ د تره ګری او نا خوالی نا مطلوبه اغیز لاندی راغلی ده باید هڅه او هاند وشی.

همدا رنګه د تاریخ په اوږدو پړاونوکی د خلکو ګډ ژوند ون تجا رب او بریالیتوبونه ښودلی ده . چه په یو هیواد یا یو ټولنه کی سونه چه موټی توب د خلکو له خلوصیت، سپیڅلی نیت او انسانی اړیکی باندی ولاړ او محتاطانه د خلکود ګټو او هیلو سره سم چه د عدالت پربنسټ رامینځ ته شوی وی همغونه زیاته بین القومی نیکی احساسات او اړیکی د خلکو په زړونه را ژوندی کیږی . چه دا د ژوند ون په اږدو کی ضروری او د منلو وړه پد بده ده . په بین القومی ، بین المسکونی او ژبنی اختلافات کوم چه خلک په هغه او یا دغه پلمو باندی سره جلا کوی او د موټی توب پر مخه لکه د اوسپنی د یوال دریږی په جدی توګه بیاهم د پوه مصالح او بیغرضو خلکو له خوا محتاطانه ګام واخیستل شی چه خلکو ته خوابدی او سوی نظر پیدا نشی . څکه چه د خلکو دښمنان د دغه فرصت په استفا ده لاس وهنی کوی تره ګری او بی اتفاقی ته لمن وهی چه دسو کالی په پروسه کی خنډ پیښ شی چه دا عمل د ځغم وړ نه دی او ضرورده چه مخه ورته ونیول شی .

په یو ټولنه یا یو هیوادکی سومره چه په خلکو عدم تفاهم د ژوندون په هر اړخه کی وجود ولری ، هغومره پکی نفاق او بدمرغی زیا ته وی او دښمنان بیاهم د فرصت په ګته په بی اتفاقی او جلاتوب دخلکو چه د هغوی پرامنیت او خوندی ژوند پوری منفی او خراپه اغیزه کوی خپله شوم اغراض مخ ته بیایی ، اوپر نا پوهو په چوکی او پیسو مینانو باندی خپل شوم اهداف تر سره کوی چه وطن ویجاړ شی او خلک سره واچوی .

که د میشته قومونو د تیرشوی ژوند په تړاو په هیواد کی لږ نظر واچو او دهغو د ژوند د وصف اړخی ته وګورو، ورښایی چه خلک د یوالی په فضا کی چه د خوښی او مینی څخه ډکه وه سره په سوله اوسیدل او په مینه سره راشه درشه خپل مینځوکی درلود ل.

په هغو د ژبی ، مذهب طبقاتی تبعیضات او اختلافات نخه نښانی نه لیدل کیده . او هر یو لکه د یو دینی وروړپه توګه سره ژوند کول . او دا رنګ اجتماعی او ټولنیز ژوند ته هریو په درنه ستر ګه کتل . د امنیت او خوندی ساتلو په وړاندی هریو ځانونه مسول بلل او پخپل مینځو کی د امنیت په نیولو کلک ولاړ او ددښمنی څخه په ډډه د سوله ایز ژوند ته ادامه ورکول. حتی د ډیر مینی او خلوصیت له کبله د یوبل په مرسته سره دانګل. د ښه نیت په لرلو د ژوندانه چاری ددوی په ښه توګه تر سره کیدل. د دوی ډیر مهمی چاری د جلسو مرکو او د سپنږیرو په مداخلت مرفوع کیدله ، چه دښمنی خوابدی بغض اوکینی ته ځای نه پاتی کید له . نو څرګنده خبره ده چه څونه یو ټولنه کی چه د زړه له کومی وحدت ووسی جنګ تره ګری او بی امنیتی ته ځای نه لیدل کیږی. دښمنانو ته زمینه د جنایات ، شراندازی او چورچپاول نه پا تی کیږی ، چه په نتیجه کی بدارنګه یو واحده ټولنه یا هیواد باندی د بدمرغی او نا آرامی شرایط او زمینی نه لیدل کیږی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

مسلمه خبره ده چه په داسی را ایجاد شوی واحده تولنه چه د خلکو په رغبت او مینه را مینځ ته شوی وی په کی ترقی تعالی ، پوهه او هوښیاری بدون د کوم ویری او تغافل په چټکتیا تر مخه ځی او خلکی له خوښی د ویاړه ډکه د یوبل په لیدو خوشحاله او خپل د خوښی ژوند په سمولو هڅه کوی.

د خلکو او قومونو موټی توب او اغیزی پرامنیت او سولی نه یواځی همدا دی بلکه څرنګه چه د خلکو زور د خدای زور دی . نو دغه زور په یواځی توب لاس ته راځی بلکه د متحد او مصممو خلکو د خوښی توحید چه د زړه له کومی وی راخیژی او تر لاسه کیږی چه په نتیجه کی په داسی متحده زورمنده جا معه کی چه له د ښمن د زهرپاشی او زلیلی نه سوا ده ژوند له امن او امنیت نه ډکه تر سره کیږی. همدا رنګه له بلی پلوه پرستیزاو حیثیت دداسی متحده یو موټی قومونه نه چه ځانته په داخل د هیواد بلکه د ګاونډیو او حتی د جهان په سطحه لوړ وی او خلکی تل د حرمت او رفانه ډ که ژوند کی اوسیږی .

په اتحاد او تولنیز ژوندکی ډیری ګټی او مزایاوی انغښتی ده که هرسومره پی وغږیږو بیا هم لا کمه ده خو راځی خویندو ورونو چه له داسی شفاهی ویناګانی نه چه په زړه یو او په خوله کی بل ووسو تیر شو او په عمل کی ور وښایو چه مونږ افغانان څرنګه چه په دښمنی کی ماهر او تکړه خلک یو په دوستی کی هم د چا نه کمه نیو . په هر ځای کی چه پراته یو لاسونه سره یو کړو د اتحاد او همدلی ژوند ته صفا او صدق ور وبښو ، کینی عداوت شا ته وغورځو ، له د ډیر بی ارزښته او زهر جنو خبری چه باعث د جلا توب او تره ګری ګرځی لاس واخلو او ځانونه خپل خلکو ته د تشو یق او ترغیب نمونه وګرځو. په خلکو کی با ور او اعتماد یو پر بل با ندی کوم چه په دی ورستیو د جنګ په دری لسی دوروکی له مینځه تللی ده را پیداکړو . او ووایو چه موږ د یو امن او سوله ایز ژوند په اړوند چه بکی د زړه له کومی مظبوطه ، پوهمنده او راسخ تصمیم وجود لری غوښتونکی خلک یو . چه په دارنګ عمل خپل وشوکولی چه په سلا او متحده مشور باندی د اطمنان او باور په لرلو اجنبیان له خاوره په عزت او ابراز امتنان رخصت او د هغوی ځایونه د ښاوری په ساتلو خپل له ویاړه ډکه ځوانان وګمارو . تر سو د دغه ناروا ټوپک دارانو چه د شخصی ګټی په خا طر وطن په کنډ ولو بدل کړیدی ، د قتل او قتال چور چپاول سبب ګرځید لی دی او ګرځی ځانونه او هیواد وژغورو ، لکه رشتینی بچیان ددی هیواد په آبا دی عمرانی په ګډ او تاوده زړونه ملا وتړو چه د یو سپیڅلی او ښایسته مخ په وړاندی او نامدار افغانستان خاوندان وګرځو . ا مین

که د ملک په ورانی کړی ګوت وهنه ناکسی بوله د وطن ا بو دا نه ده پی حرام ، پی ننګی بوله
په یوا لی موټی توب و ینم ستا ښکلا ا و بری چه نه منی د ر سره د ا، ضرور غلیمی بو له
کړ کیچنه دنیاګی کی، خلکو ژوند شو ځان ځا نی وایی حکمی چه هڅی په یوا لی ، خواخوګی بوله

په درناوی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de